هفته واره رساله

امیرِ اهلِسُنَّت تقریباً 6 کاله مخکښینے (د 1441 هجری) بیان

# د الله پاک نه ویره

- د سُورةُ التّكاثُر مضمونونه
- د ابنِ آدم مال
- د نعمت دوه قسمونه
- د 12 کالو پورې حساب او کتاب


شیخ طریقت، امیرِ اهلِ سنت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د اللّٰه نه وِيره[1]

دُعائے عطّار: يا اللّٰه پاکه! څوک چې دا رساله "د اللّٰه نه وِيره" ولولي يا واورې هغهٔ ته خپله حقيقي وِيره ورعطا کړې او سره د مور او پلاره يې جَنَّتُ الفردوس ته بے حسابه داخله نصيب کړې-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرت اِمام محمد بن عبدُ الرحمان سَخاوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نقل کوي: "اللّٰه پاک حضرت موسىٰ کليمُ اللّٰه عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي وفرمائيله چې ما پهٔ تا کښې لس زره غوږونه پيدا کړل، د دې پورې چې تا زما کلام واورېدو او لس زره ژبې مې پيدا کړې د کومو پهٔ ذريعه چې تا زما سره خبرې اوکړې- تهٔ به ما ته

[1] امير اهل سُنَّت باني دعوتِ اِسلامي حضرت علامه مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ 26 ربيع الاول کال 1441 هجرى د عاشقانِ رسول ترمينځه د مدني مذاکرې نه مخکښې د اللّٰه پاک نه د وِيرې پهٔ موضوع باندې بيان وفرمائيلو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! شعبه "هفته وار رساله" دا د رسالې پهٔ شکل کښې پيش کوي ځکه چې يې هم ولولئ او د خپلو وفات شوو د ايصالِ ثواب د پاره يې تقسيم هم کړئ- (شعبه هفته وار رساله)

ډېر زيات محبوب او ما ته ډېر نزدې هغه وخت يــې کله چې تهٔ زما ذِکر کوې او پهٔ مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) باندې ډېر درود لېږې-" (القول البديع، ص 275، 276)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د الله پاک د وِېرې پهٔ توره شهيد شو

يو بزرګ د يوې مدرسې نه بهر يو ماشوم وليدو چې ژړل يې ، پهٔ پوښتنه کولو هغه ووئيل: زمونږه اُستاذ صاحب پهٔ نني سبق کښې پهٔ تختئ باندې څه آيتونه مبارک ليکلي دي، چې هغه ما ژړوي، دا يــې ووئيل او تختئ يې ور وړاندې کړه، پهٔ هغې باندې ليکلے شوي وو:

اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ۙ﴿۱﴾ حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ؕ﴿۲﴾ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ﴿۳﴾ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ؕ﴿۴﴾

كَلَّا لَوْ تَعْلَمُوْنَ عِلْمَ الْيَقِيْنِ ؕ﴿۵﴾

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: د زيات مال جمع کولو طلب تاسو غافله کړئ- د دې پورې چې تاسو د قبرونو خُلې وليدلې- آؤ آؤ، اوس به زر پوهه شئ- بيا يقيناً تاسو به زر پوهه شئ- يقيناً که تاسو د يقيني علم سره پوهېدلے (نو د مال سره به مو محبت نهٔ ساتلے)

هغه ماشوم مسلسل ژړل، هغه بزرګ چې د هغهٔ دا وِېره وليدله نو ډېر متاثر شو او وه يــې فرمائيل: ځويه! د دې سورت سبق د دې ځائے پورې نهٔ پوره کېږي بلکې مخکښې هم دے، کوم چې کېدے شي تا له سبا درکړے شي-

دا يـې ووئيل او هغوئي د سورةُ التَّكاثُر باقي آيتونه مبارک هم واورول کوم چې دا دي:

لَتَرَوُنَّ الۡجَحِيۡمَ ۙ﴿۶﴾ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيۡنَ الۡيَقِيۡنِ ۙ﴿۷﴾ ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ النَّعِيۡمِ ﴿۸﴾

(پ30، سورۃ التكاثر: 6 تا 8)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: بے شکه تاسو به ضرور دوزخ وِينئ- بيا به بے شکه تاسو ضرور هغه د يقين په سترګه وِينئ- بيا به بے شکه ضرور په هٰغه ورځ تاسو نه د نِعمتونو په باره کښې تپوس کيږي-

د دوزخ ذِکر چې يـې واورېدو نو هٰغه ماشوم چغې کړې، په ړچيدو ړچيدو راپرېوتو او په لړزيدو لړزيدو يـې ساه ورکړه- د هغهٔ اُستاذ راغلو او هغهٔ هٰغه بزرګ راونيولو- خلق راجمع شول، د وفات شوي ماشوم مور او پلار هم راغلل- هٰغه بزرګ د قاتِل په توګه عدالت ته پيش کړے شو- قاضي صاحب چې د هٰغه بزرګ نه صفائي وغوښتله نو هغوئي ټوله واقعه بيان کړه- دا يـې چې واورېدل نو قاضي صاحب وفرمائيل چې دا ماشوم ډېر سعادت مند وو او د الله پاک د وِيرې په توره شهيد شوے دے- هٰغه بزرګ يـې په عزت سره بري کړو- (نزهة المجالس ، 94/2 ملخصاً)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

پیارے بچّے کے خوفِ خدا پر فدا | سنتے ہی آیتیں ڈھیر جو ہو گیا
کاش مل جائے مجھ کو بھی ایسی وِلا | میرے مرنے کا باعث ہو خوفِ خدا

## د سورةُ التَّكاثُر مضمونونه

د قرآنِ کريم پهٔ ديرشمه سيپاره کښې موجود د سورةُ التَّكاثُر مرکزي مضمون دا دے چې پهٔ دې کښې صرف د دُنيا د ښه کولو د پاره د عمل کولو مذمت(غندنه) بيان کړے شوې ده او د اخرت د پاره پهٔ تيارئ نهٔ کولو خبردارے ورکړے شوے دے، د کومې تفصيل چې څهٔ داسې دے: ﴿1﴾ د دې سورت پهٔ شروع کښې ووئيلے شو چې د ډېر مال جمع کولو حِرص خلق د اخرت د تيارئ نه غافله کړي دي او دا حِرص د دوئي پهٔ زړونو کښې اوسيدو تر دې پورې چې دوئي له مرګ راغلو- ﴿2﴾ دا بيان کړے شو چې د ډېر مال حِرص لرونکو ته به د ځنکدن پهٔ وخت د هغوئي انجام معلوم شي او که چرې هغه د دې انجام نه د يقيني عِلم سره خبر وے نو د مال سره به يې چرې هم محبت نهٔ کولو- ﴿3﴾ د دې سورت پهٔ اخره کښې دا ووئيلے شو چې د مال حِرص لرونکي به د مرګ نه پس ضرور دوزخ ويني او د قيامت پهٔ ورځ به د خلقو نه د نِعمتونو پهٔ باره کښې پوښتنه کولے شي-

(تفسيرصراط الجنان، 808/10)

## څوک چې وژاړي هغه به جَنَّت ته داخليږي

د حضرت سَيِّدُنا جَرير بن عبد الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، د الله پاک اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ ته وفرمائيل: زهٔ ستاسو پهٔ مخکښې

سورةُ التَّکاثُر لولم، پهٔ تاسو کښې چې څوک وژاړي هغه به جَنَّت ته داخلیږي- نو د مدینے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ولوستو- پهٔ مونږ کښې خو ځینو وژړل او ځینو وه نهٔ ژړل- کومو چې وه نهٔ ژړل هغوئي عرض اوکړو: یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مونږ د ژړېدو کوشش اوکړو خو ژړا رانغله - سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: زهٔ ستاسو پهٔ مخکښې دا بیا لولم څوک چې وژاړي، د هغهٔ د پاره به جَنَّت وي او چا له چې ژړا نه ورځي هغه دې ژړغونے شکل جوړ کړي- (نوادر الاصول، 81/4، حدیث:862) کاش چې مونږ د دې سورت مبارک ترجمه یاده کړو او بیا چې کله هم دا سورت لولو یا اورو نو د الله پاک د وېرې نه مو دې ژړېدل نصیب شي- بهر حال پهٔ دې روایت کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېر پهٔ ځانګړي انداز کښې د نیکۍ د دعوت ورکولو ژړوونکے بیان دے- د دې روایت نه معلومه شوه چې زما آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک پهٔ عطا سره چې چا د پاره وغواړي څهٔ وغواړي عطا کوي یې- ځکه خو یې وفرمائیل: " څوک چې وژاړي هغه به جَنَّت ته داخلیږي-"

## د زرو آیتونو د لوستلو ثواب

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د " سورةُ التَّکاثُر " لوستونکي ته د زرو آیتونو د لوستلو ثواب مېلاؤیږي، د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُما نه روایت دے، نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: " آیا پهٔ تاسو کښې څوک د دې طاقت نهٔ لري چې هغه هره ورځ زر آیتونه تِلاوت کړي؟ صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم عرض اوکړو: د دې طاقت څوک لري؟ اِرشاد یې

وفرمائيلو: آيا پهٔ تاسو کښې څوک (روزانه) د " اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ " د لوستلو طاقت نهٔ لري؟ (يعني دا سورت لوستل پهٔ ثواب کښې د زرو آيتونو د لوستلو برابر دے-)

(مستدرک، 276/2، حديث: 2127)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې ليکلي دي: د دې (سورت) پهٔ تِلاوت کښې د زرو آيتونو د تِلاوت او عمل ثواب دے، پهٔ قرآنِ کريم کښې شپږ زره شپږ سوه شپږ شپېته (6666) آيتونه دي، ګسر ترې چې اوباسې نو شپږ زره آيتونه پاتې کيږي او د قرآنِ پاک مقصدونه شپږ دي، پهٔ کومو کښې چې يو دے " د اخرت پيژندنه " دا پهٔ سورهٔ تکاثُر کښې موجود دے، ځکه دا سورة ګويا د قرآنِ کريم تقريباً شپږمه حصه ده، پهٔ دې (سورت) کښې د غور کولو سره د دُنيا بے رغبتي ده، پهٔ اخرت کښې رغبت، د دې پهٔ وجه نفس د ګناهونو نه نفرت شروع کوي او نيکو ته راغب کيږي-

(مرآة المناجيح، 262/3)

## د اِبنِ آدم مال

حضرت مُطرِّف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل والد نه روايت کوي چې زهٔ د رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خِدمت کښې حاضر شوم، هُغه وخت هغوئې د "اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ" تلاوت کولو، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: " اِبنِ آدم وائي چې زما مال، زما مال، اے ابنِ آدمه: ستا مال هُغه دے کوم چې تا وخوړو او فنا دې کړو يا دې واغوستو او زوړ دې کړو يا دې صدقه کړو او وړاندې دې وليږو-" (مسلم، ص 1210، حديث:7420)

## د قیامت پهٔ ورځ د 5 څیزونو پهٔ باره کښې پوښتنه

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " اِنسان به د هُغه وخته پورې د قیامت پهٔ ورځ قدم نشي اوچتولے د څو پورې چې د دې 5 سوالونو جوابونه ورنکړي: ﴿1﴾ تا ژوند څنګه تېر کړو؟ ﴿2﴾ ځواني دې څنګه تېره کړه؟ ﴿3﴾ مال دې د چرته نه وګټو؟ او ﴿4﴾ چرته چرته دې ولګولو؟ ﴿5﴾ د خپل عِلم مطابق دې څومره عمل اوکړو؟ " (ترمذی، 188/4، حدیث:2424) دا ډېره د وېرې خبره ده چې دا وخت مونږ د خپل عمر پهٔ باره کښې غافله یو، ځوانان خو ځوانان دي چې بوډاګان هم د غفلت ښکار دي، د هغوئي سره هم اِحساس نشته چې اوس بله لاره نشته، اوس هم بس مرګ راروان دے- ځوانانو له هم غور کول پکار دي چې د هغوئي نه پوښتنه اوکړے شي چې ځواني مو پهٔ کوم کار کښې تېره کړه- داسې خو مال خلق ډېر پهٔ شوق سره ګټي او دې ته نهٔ ګوري چې د کوم ځائے نه راځي، " نهٔ یې پهٔ حلالو څهٔ پروا وي او نهٔ پهٔ حرامو، چې بس د چرته نه څهٔ راځي خوري یې " نو څومره مال چې اِنسان ته مېلاؤېږي هُغه همره اِنسان جمع کوي حالانکې دستور دے چې څومره مال زیات وي هُغه همره یې وبال هم زیات وي- د سفر اُصول هم دي چې پهٔ بس یا ریل ګاډي وغېره کښې د چا سره سامان ډېر وي هغه هم هُغه همره پرېشانه وي- کوم خلق چې د هوائي جاز پهٔ ذریعه د یو ملک نه بل ملک ته سفر کوي د هغوئي به تجربه شوې وي چې د ډېر سامان والا پهٔ کسټم وغېره کښې څومره پرېشانه کیږي! دغه شان چې د چا سره د دُنیا د مال بوج کم وي هغهٔ ته به پهٔ اخرت کښې اساني وي-

# د ” دروند بوج “ تعريف

حضرت سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي چې د الله پاک محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت ابو ذَر غفاري رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ لاس نيولے وو او تشريف يـې راوړلو او هغوئي ته يـې وفرمائيل: اے ابو ذره! آيا تا ته معلومه ده چې زمونږ مخې ته يوه سخته دَره ده، په هغې صرف د سپک بوج والا تېرېدے شي؟ يو صاحب عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زهٔ پهٔ دروند بوج والؤ کښې يم که پهٔ سپک بوج والؤ کښې؟ وه يـې فرمائيل: آيا ستا سره د نن خوراک شته؟ عرض يـې اوکړو: آؤ جي- وه يـې فرمائيل: د سبا د پاره خوراک شته؟ عرض يـې اوکړو: آؤ جي- بيا يـې وفرمائيل: د بلې ورځې خوراک شته؟ عرض يـې اوکړو: نهٔ جي! نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: که چرې ستا سره د درېو ورځو خوراک وے نو تهٔ به پهٔ دروند بوج والؤ کښې وے-

(معجم اوسط، 348/3، حديث:4809)

دلته خو د درېو ورځو د خوراک د ذخيره کولو خبره چرته ده، صرف د حِرص له وجهې د قِسما قِسم خوراکونو نه فرج ډک وي او بغير د ضرورت نه د څيزونو ډېرے جوړ شوے وي- آه! زمونږ د حرص ناکو به څهٔ کيږي! د دولت د زياتوالي بوج، د نور مال د زياتولو د هوس بوج، د ډېرو ډېرو دکانونو او د کارخانو بوج، بلکې د قِسما قِسم ګناهونو هم بوج مثلاً د سود او د رشوت بوج، د دوکې کولو بوج، د نورو د مال بر ناحقه د نيولو او وهلو بوج، هئ! هئ! پهٔ سرونو باندې خو بوج او بس تش بوج دے، آه! د دومره بوجونو باوجود به پهٔ پل صراط باندې د تېرېدو څهٔ حالت وي!

(پل صراط کی دہشت، ص 11)

دا د دُنيا مثال دے چې څومره مال زيات هٔغه همره پهٔ دُنيا کښې هم وبال، چې څومره دولت زيات هٔغه همره د غلو، ډاکوانو او د لوټ مارانو خطره هم زياته، د قلنګ ټولونکو د طرف نه د قلنګ غوښتو او د دهړکو خطره چې قلنګ راکړه کنې ستا بچے به وتښتوو او يا به تا مړ کړو وغيره، نو دا مال پهٔ دُنيا کښې هم د وبال ذريعه ده- غريب اِنسان به پهٔ فټ پاټ باندې هم پهٔ سکون سره څملي، او مالداره اِنسان پهٔ کور کښې دننه پهٔ بندو دروازو کښې هم ويرېږي چې چرته څهٔ وه نهٔ شي، بهر حال دا دُنيا د عبرت ځائے دے دې سره زړهٔ لګول ټيک نهٔ دي-

جہاں میں ہیں عبرت کے ہر سُو نمونے
مگر تجھ کو اندھا کیا رنگ و بُو نے
کبھی غور سے بھی یہ دیکھا ہے تو نے
جو آباد تھے وہ محل اب ہیں سُونے
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

یہی تجھ کو دُھن ہے رہوں سب سے بالا
ہو زینت نِرالی ہو فیشن نِرالا
جِیا کرتا ہے کیا یونہی مرنے والا
تجھے حُسنِ ظاہر نے دھوکے میں ڈالا
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

بڑھاپے سے پا کر پیامِ قضا بھی
نہ چونکا، نہ چیتا، نہ سنبھلا ذرا بھی
کوئی تیری غفلت کی ہے انتہا بھی
جُنوں کب تلک؟ ہوش میں اپنے آ بھی
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

تجھے پہلے بچپن نے برسوں کھلایا
جوانی نے پھر تجھ کو مجنوں بنایا
بڑھاپے نے پھر آ کے کیا کیا ستایا
اَجَل تیرا کر دے گی بِالکل صَفایا
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دې نه مخکښې چې زمونږ په باره کښې دا شور شروع شي چې فلانکے وفات شوے دے، اوس زر غسل ورکوونکے راوغواړئ، نو غَسال (يعنې مړي له غسل ورکوونکے) به د تختې سره را روان وي، غسل به راکړے کيږي، کفن به راته اغوستے کيږي، بيا به تيارهٔ قبر ته کوز کړے شو او عين ممکن ده چې دا هر څهٔ هم نن وشي، کېدے شي چې سبا وشي، مرګ پهٔ هر حالت کښې راتلونکے دے۔

بارہا عِلمی تجھے سمجھا چکے　　　　مان یا مت مان، آخر موت ہے

د دې نه خوک هم نشي تښتېدے، کاش چې د مرګ راتلو نه مخکښې مونږ اومنو او زر زر توبه کړو او د الله پاک د رضا پهٔ کارونو کښې لګيا شو، پهٔ زړهٔ کښې د الله پاک د وېرې زياتولو، د اِيمان د حفاظت غم موندلو، د ګناهونو د عادت ختمولو، خپل ځان د سُنَّتو پابند جوړولو، پهٔ زړهٔ کښې د عشقِ رسول د شمعې بلولو او پهٔ جَنَّتُ الفردوس کښې د مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګاؤنډ د شوق موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره هر وخت خپل تړون نور هم مضبوط کړئ، هره مياشت کم از کم د درېو ورځو د پاره د عاشقانِ رسول سره پهٔ قافله کښې د سُنَّتو نه ډک سفر کوئ او د نېک اعمال رسالې پهٔ ذريعه روزانه خپله جائزه اخلئ او د هرې عيسوی مياشتې پهٔ ورومبي تاريخ يې د خپل ذمه دار سره جمع کوئ، که الله پاک وغوښتل نو د قبر او د اخرت د تيارۍ ذِهن به مو نصيب شي۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو درهم هم نۀ وو

د حضرت سَیِّدُنا عَون بن مُعَمَّر رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه بيان دے چې يوه ورځ حضرت سَیِّدُنا عمر بن عبدُ العزيز رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه خپلې کور ودانې ته وفرمائيل: فاطمې! که ستا سره يو درهم وي نو را يې کړه، نن مې انګورو خوړلو ته زړۀ شوے دے، هغې عرض اوکړو: زما سره درهم چرته دے؟ آيا تاسو د اميرُ الْمُؤمِنِين کېدو باوجود هم د يو درهم حېثيت نۀ لرئ؟ (پۀ نا قلارۍ کښې يې) وفرمائيل: انګور نۀ خوړل د دې نه ډېر زيات اسان دي چې سبا د دوزخ زنځيرونه واغوندم- (تاريخ الخلفاء، ص 188) د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئې باندې رَحمت وي او د هغوئې پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت سَیِّدُنا عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د اللّٰه پاک نه وېره مرحبا! انګور بے شکه چې حلال او طيب دي خو د اللّٰه پاک نِعمت دے او د قيامت پۀ ورځ باندې به د هر نِعمت حساب ورکول وي، عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د اخرت د وېرې له وجهې د انګورو د خوړلو نه ډډه اوکړه- آه! نن مونږ د يو بل نه خوندور نِعمتونه خورو او استعمالوو او د نور ښۀ نه د ښۀ لټولو کوشش کوو، د ښۀ نه ښۀ محل هم راته کافي نۀ محسوس کيږي، د غټې نه د غټې بنګلې د حاصلولو پۀ تکل کښې يو-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** چرته چې د سورةُ التَّکاثُر نور آيتونه بے پروا اِنسان د غفلت د خوب نه راويښوي هلته اخري آيتونه مبارک د اللّٰه پاک

نه وېرېدونکي ناقلاره کوي- نو الله پاک اِرشاد فرمائي: ﴿ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ النَّعِيۡمِ﴾ (پ 30، سورۂ التکاثر :8) [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بيا به بې شکه ضرور پۀ هٰغه ورځ تاسو نه د نِعمتونو پۀ باره کښې تپوس کيږي-

## د آيت مبارک پۀ تفسير کښې درې اقوال

﴿1﴾ حضرتِ عِکرمه رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ فرمائي: کله چې دا آيت مبارک نازل شو نو صحابۂ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡهُم عرض اوکړو: يا رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ پۀ کومو نِعمتونو کښې يو؟ زمونږ خو د وربشو ډوډۍ او هغه هم صرف پۀ نيمه خېټه نصيب کيږي! وحي راغله: آيا تاسو پېزار نۀ اچوئ؟ يخې اوبۀ نۀ څښئ؟ دا هم نِعمتونه دي- ﴿2﴾ حضرتِ مولائے کائنات، عَلِیُّ المُرتَضیٰ شيرِ خدا رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ د دې آيت پۀ تفسير کښې فرمائي: چا چې د غنمو ډوډۍ وخوړله او د فُرات اوبۀ يې وڅښلې ورسره د اوسيدلو د پاره کور هم وي، دا هٰغه نِعمتونه دي د کومو پۀ باره کښې چې به پوښتنه کيږي- ﴿3﴾ جليل القَدْر تابِعي حضرتِ سَيِّدُنا امام مُجاهِد رَحۡمَةُ اللہِ عَلَیۡه د دې آيت مبارک پۀ باره کښې فرمائي چې د دې نه د دُنيا هر خوندور څيز مُراد دے-

(تفسير درّ منثور، پ 30، التکاثر، تحت الآية:8، 8/612-613)

د سورۃُ التَّکاثُر د اخري آيت مبارک لاندې صدرُ الافاضِل حضرت علامه مولانا سَيِّد محمد نعيمُ الدين مُراد آبادي رَحۡمَةُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: څۀ چې الله پاک تاسو ته عطا کړي وو صحت او فراغ (يعني خوشحالي) امن او عيش او مال وغيره د کومو نه چې به دې پۀ دُنيا کښې خوندونه اخستل، پوښتنه به کولے

شي: دا ځيزونه دي په کوم کار کښې ولګول؟ د دې دې څۀ شُکر ادا کړو؟ او د شکر په پرېښودو باندې به عذاب ورکړے کيږي-

(تفسير خزائن العرفان، پ 30، التکاثر، تحت الآية:8، ص 1118)

## دوه قِسمه نِعمتونه او د اخرت سوالونه

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د سورۀ تکاثُر د اخري آيت لاندې په بيان کړے شوي تفسير کښې دا هم دي چې گسبي نِعمت (يعني په خپل کوشش باندې حاصل کړے شوے نِعمت مثلاً متاياني، خوندور خوراکونه، يخ شربتونه، ښې جامې، دولت، سلطنت وغيره) په باره کښې به درې پوښتنې کيږي: ﴿1﴾ د چرته نه دې حاصل کړو؟ ﴿2﴾ چرته دې ولګولو؟ ﴿3﴾ د دې شُکر دې ادا کړو ؟ وَهبِي نِعمت (يعني د اللّٰه پاک عطا کړے شوے هٔغه نِعمت په کوم کښې چې د اِنسان خپل کوشش نۀ وي شامل لکه سپوږمۍ، نمر، لاسونه، ښپې، سترګې، غوږونه وغيره) په باره کښې به دوه پوښتنې کيږي: ﴿1﴾ چرته دې ولګولو؟ ﴿2﴾ د دې دې څۀ شُکر ادا کړو؟

(تفسير نور العرفان، پ 30، التکاثر، تحت الآية:8، ص 956)

## آه! خوندور خوندور خوراکونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** واقعي چې ډېره د وېرې خبره ده، نن مونږه د خوندورو نه د خوندورو خوراکونو او د نِعمتونو حرص کوو خو په قبر کښې د چينجو د خوراک د جوړېدو او د اخرت په حساب کښې د راګېرېدو وېره مو هېره کړې ده- زمونږ د ښۀ نه ښۀ او د خوندور نه خوندور خوراک پکار

وي او هغه چې هم ګرم وي، يو څو "ښهٔ خوراک" پخپله هم نِعمت دے او د هغې ګرم کېدل پهٔ نِعمت پسې نِعمت دے، پهٔ ساده چائے هم ګزاره نهٔ کيږي، دودهٔ پتي وي او هغه هم خوږه خوږه ګرمه ګرمه وي، داسې زمونږ يو چائے هم د ډېرو نِعمتونو مجموعه جوړيږي! دغه شان حلوه پوري، پزې، پراټې، قِسما قِسم مټاياني، قِسما قِسم تازه مېوې او وچې مېوې (يعنې ډرائي فروټ)، خوندورې فالودې، يخ خواږه شربتونه، بادام پستې والا شير خُرما، يخې بوتلې (Cold Drinks) آئس کريم، کوچ، ملائي، کسټرډ، کباب سموسې، ګرمې ګرمې پکوړې، پهٔ غوړو کښې سرهٔ کړے شوي مهيان، پهٔ غوړو کښې سرهٔ کړے شوي پوښتۍ، تندوري ران، د چرګانو تکې، سيخ کباب، برګر او پته نهٔ لګي چې څهٔ څهٔ زمونږ لالچي نفس غواړي او خوري ښښي يـې- اګر چې دا ټول خوراکونه حلال دي خو پهٔ دې باندې او د ټولو نِعمتونو پهٔ باره کښې به د اخرت پهٔ ورځ پوښتنه کيږي- کاش چې زمونږه وخوره وځښه نفس قابو شي- کاش چې داسې وشي چې د شوق او صرف د خوند حاصلولو د پاره د خوراک ښناک د عادت نه مونږ نجات حاصل کړو-

## د مال د خوړلو شوقيان غور اوکړئ

مونږ د يو څو منټو د خوند د پاره څومره لويه خطره پهٔ سر اخلو، پهٔ دې خبره د دې روايت پهٔ ذريعه د پوهه کېدو کوشش اوکړئ د دعوتِ اِسلامي د مکـتبة الـمدينه د 504 صفحو کتاب " منهاجُ العابِدين " پهٔ صفحه 141 باندې حُجَّةُ الاِسلَام حضرت سَيِّدُنا امام اَبُو حامِد محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: منقول دي: " بے شکه د ځنګدن د جټکو سخته د

دُنیا د خوندونو مطابق ده-“ نو چا چې ډېر خوندونه اخستي وي هغهٔ ته به پهٔ ځنکدن کښې تکلیف هم ډېر وي- (منهاج العابدین، ص 185 بتغیرِ قلیلِ)

## د ځنکدن د سختو منظر

د ځنکدن د سختو منظر ته وګورئ، حضرت علامه جلالُ الدین سُیُوطي شافعي رَحۡمَۃُاللهِ عَلَیۡه نقل کوي: مرګ د دُنیا او د اخرت پهٔ وحشتونو کښې د ټولو نه زیات وحشت ناک دے، دا د ارو د سِیرلو، پهٔ قېنچو د کټ کولو او پهٔ کټوئ کښې د خوټکولو نه زیات دردناک دے- که چرې مړے راژوندے شي او د مرګ سختئ خلقو ته بیان کړي نو د هغوئي عېش او خوب هر څهٔ به ختم شي- (شرح الصدور، ص 33)

کاش کے نہ دنیا میں پیدا میں ہوا ہوتا
قبر و حشر کا ہر غم خَتم ہو گیا ہوتا
جاں کنی کی تکلیفیں ذَبح سے ہیں بڑھ کر کاش!
مرغِ بن کے طیبہ میں ذَبح ہو گیا ہوتا
آہ! کثرتِ عِصیاں ہائے! خوف دوزخ کا
کاش! میں نہ دنیا کا اِک بَشَر بنا ہوتا
شور اُٹھا یہ محشر میں خُلد میں گیا عطّار
گر نہ وہ بچاتے تو نار میں گیا ہوتا
(وسائلِ بخشش ، ص 158)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب          صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د نِعمت د حِساب پهٔ باره کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 9 لړزېدونکي فرامین

د فاني خوندونو نه د خپل ځان د بچ کولو د جذبې زیاتولو او د دُنیا د نِعمتونو پهٔ وجه د اخرت د کېدونکي حساب نه د ځان وېرولو د پاره زړهٔ

بوړنوونڪي د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 9 فرامين ولولئ: ﴿1﴾ کله چې به د قيامت ورځ وي نو الله پاک به پۀ خپلو بندګانو کښې يو بنده راوغواړي او خپلې مخې ته به يې ودروي او د هغۀ نه به د هغۀ د شان او د شوکت پۀ باره کښې داسې پوښتنه کوي لکه څنګه چې به د هغۀ د مال پۀ باره کښې کوي- (معجم اوسط، 140/1، حديث:448) ﴿2﴾ بنده چې هر قدم اوچتوي نو پۀ قيامت کښې به د هغۀ نه پوښتنه کيږي چې هُغه قدم دې د څۀ د پاره پورته کړے وو؟ (تاريخ ابن عساکر، 54/6، حديث: 1405) ﴿3﴾ د قيامت پۀ ورځ به د ټولو نه وړومبے د بنده نه دا پوښتنه کيږي چې آيا ما ستا وجود صحت مند نۀ وو ساتلے؟ آيا ما پۀ يخو اوبو تۀ نۀ وې موړ کړے؟ ( تا د دې حقونه ادا کړل که نۀ؟) (مستدرک ، 191/5، حديث:7285) ﴿4﴾ مالِک او مَمْلوک (يعني غلام) به او زَوج او زَوجه (يعني خاؤند او ښځه ) به راوستلے شي بيا به د هغوئي سره حساب کيږي، تر دې پورې چې نارينه ته به وئيلے شي: تا پۀ فلانڪي فلانڪي ورځ د خوند سره اوبۀ وڅښلې او خاؤند ته به وئيلے شي چې د فلانڪي ښځې سره د نڪاح نور هم طلبګاران وو خو تا د هغې سره نڪاح غوښتله نو ما هُغه ټول پرېښودل او د هغې نڪاح مې ستا سره اوکړه- (آيا تا د دې نِعمتونو حق ادا کړو؟) (مجمع الزوائد، 633/10، حديث:18390) ﴿5﴾ د قيامت پۀ ورځ به د مؤمِن نه د هر عمل پۀ باره کښې پوښتنه کيږي تر دې پورې چې د هغۀ نه به پۀ خپلو سترګو د رانجو پورې کولو پۀ باره کښې هم پوښتنه کولے شي- (حلية الاولياء، 31/10، حديث:14406مختصراً) ﴿6﴾ اِنسان چې کومه خطبه (يعني وَعظ او بيان) کوي د دې پۀ باره کښې به هم پوښتنه کولے شي چې د دې نه ستا څۀ اِراده وه؟

(موسوعہ لابن ابی الدنیا، 294/7، حدیث:514) (مُبَلِّغِين او تقرير کوونکي دې غور اوکړي چې د بيان مقصد د نېکۍ دعوت وو که د بيان تعريف او د واه واه طلب يا شهرت حاصلول يا دولت؟) ﴿7﴾ کوم اِنسان چې د يو څيز طرف ته رابلل کوي د قيامت په ورځ به هغه د هغۀ د دعوت سره ودرولے شي، که يو اِنسان له يـې دعوت ولې نۀ وي ورکړے! (ابنِ ماجہ، 137/1، حدیث:208) (په دې روايت کښې د خلوص طرف ته اِشاره ده مثلاً د نېکۍ دعوت دې صرف د الله پاک د رضا د پاره ورکړے وو که بل څۀ مقصد دې وو؟ انفرادي کوشش کوونکي مبلغين دې هم غور اوکړي) ﴿8﴾ قسم دے په هٰغه ذات باندې د چا په قبضۀ قدرت کښې چې زما ساه ده! ستاسو نه چې به د قيامت په ورځ د کوم نِعمت په باره کښې پوښتنه کيږي هغه يخ سورے او ښکلې کجورې او يخې اوبۀ دي- (ترمذی ، 163/1، حدیث:2376 مختصراً) ﴿9﴾ په قيامت کښې به هر غني او فقير (يعني هر مالداره او غريب) ارمان کوي چې کاش! په دُنيا کښې د هغۀ سره صرف قُوت (يعني صرف دومره خوراک وے په کوم باندې چې ژوند بچ شي او نور څۀ نۀ) وے- (ابنِ ماجہ، 442/4، حدیث:4140)

## د نِعمت د حساب په باره کښې د دِين د بزرګانو درې اقوال

﴿1﴾ حضرتِ سَيِّدُنا عبد الله بن عُمير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څومره چې مال ډېر وي هٰغه همره به حساب ډېر وي- (البدور السافرۃ فی امور الآخرۃ، ص 264، قول:774) ﴿2﴾ حضرتِ سَيِّدُنا ابو ذر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: په قيامت کښې به د يو درهم والا په مقابله کښې د 2 درهمو والا حساب ډېر سخت وي- (الزہد للامام احمد بن حنبل، ص121، حدیث:797) ﴿3﴾ جليلُ القَدْر تابِعي سَيِّدُنا مُعاوِيه بن قُرَّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

فرمائي: پهٔ قيامت کښې به د ټولو نه سخت حساب د صحت مند فارغُ البال (يعني مالداره) کَس سره کيږي- (تاريخ ابن عساكر، 271/59)

صدقہ پیارے کی حیاکا کہ نہ لے مجھ سے حساب
بخش بے پوچھے لجائے کو لجانا کیا ہے

(حدائقِ بخشش، ص 171)

**شرح کلام رضا:** اعلىٰ حضرت رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه پهٔ دې شعر کښې د اللّٰه پاک پهٔ دربار کښې عرض کوي: يا اللّٰه پاکه! ستا د خوږ حبيب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شرم او د حيا پهٔ وسيله! ما پهٔ محشر کښې د حساب کتاب نه بغير اوبخښې، زهٔ خو پهٔ خپلو ګناهونو باندې د مخکښې نه پښېمانه يم، زما د اعمالو پهٔ حساب اخستو ما نور مهٔ شرموې-

اِمتحاں کے کہاں قابل ہوں میں پیارے اللہ
بے سبب بَخْش دے مولیٰ ترا کیا جاتا ہے

(وسائلِ بخشش، ص 432)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د 12 کالو پورې حِساب کتاب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د اخرت د حساب معامله ډېره سخته ده- د عبرت د پاره يو حکايت پيش کولے شي، وه يـې لولئ او ښه وِيرېږئ حضرت سَيِّدُنا عبد اللّٰه بن عَمرو بن عاص رَضِیَ اللہُ عَنۡہما فرمائي: د ناظِمِ نِظامِ اُمت، صاحبِ خوف وخَشِيت، سردارِ ساکنانِ جَنَّت اميرُ المُؤمِنِين حضرت سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د وصال نه پس زما د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د اخرت د

معاملو نه د خبرېدو ډېر سخت خواهش وو- يوه ورځ ما پۀ خوب کښې يو محل وليدلو نو پوښتنه مې اوکړه: دا د چا دے؟ فرښتے ووئيل: ”د حضرت عُمَر بن خطاب رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ -“ پۀ دې کښې سَيِّدُنا عمر رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ د هغه محل نه بهر پۀ داسې حالت کښې تشريف راوړلو چې پۀ هغوئي باندې يو څادر وو ګويا اوس اوس يې غسل کړے دے- ما عرض اوکړو: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِک؟ يعنې الله پاک ستاسو سره څۀ معامله وفرمائيله؟ جواب يې راکړو: ښه معامله يې وفرمائيله- بيا يې زما نه پوښتنه اوکړه: زما ستا نه د جُدا کېدو څومره موده تېره شوې ده؟ ما عرض اوکړو: 12 کاله- وه يې فرمائيل: اوس د حساب کتاب نه فارغ شوم- (تاريخ ابنِ عساکر ، 483/44)


د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

تو بے حساب بخش کہ ہیں بے شمار جرم
دیتا ہوں واسطہ تجھے شاہِ حجاز کا

(ذوقِ نعت، ص 18)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د راروانې هفتې رساله





فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net